د م، پردیس لیکنه ۲۰۱۱/۱۰/۲۴

# د سياسي لوبو معصومانه قرباني!

ما دسيمين خور ټول داستان د نه خوږو د اعتصاب له پيل نه بيا تر دې مهاله په بيلابيلو رسنيو کې ګام په ګام تعقيب کړی دی او د ځينوسياسي کړيو له خوا د رامنځته شوي دغي خونړۍ لوبي شاهد يم چې ځنګه يې په ظالمانه توګه د وطن ديوې مور د پاکو او معصومانه احساساتو نه ګټه پورته کړه او هغه يې د مرګ تربريده اعتراض او اعتصاب ته وهڅول او په دې سره يې د وطن په اوسنيو دردمنو شيبو کې د خپلو سياسي لوبو ميدان تود وساته، د ولس په ټپونو يې مالګې ودوړولې، حکومت او نظام يې له ننګونو سره مخ کړ او په جګړه ځپلي هيواد کې يې د کړکيچ پراخولو ته لمن ووهل.
په داسي حالاتو کې حکومت او امنيتي ادارو ته څه کول په کار وو؟ څرګنده خبره ده چې د کړکيچ د پراخولو مخه بايد نيول شوې وای، رغنده او سمدستي ګام بايد اوچت شوی وای ترڅو د دغي خونړۍ لوبي مخه نيول شوې وای، زه د حکومت او امنيتي ادارو دغه ګام ستايم چې دغه لوبي ته يې خاتمه ورکړه، د امنيتي ادارو د څرګندونو پربنسټ داسي اطلاعات ترلاسه شوي وو چې ترهګرو غوښتل د پارلمان او سيمين بارکزۍ د اعتصاب پرخيمه بريد وکړي چې هغه وخت بيا ددې کار د عواقبو ځواب چاپه غاړه اخيسته؟ هغه مهال به هم حکومت او نظام د لويي پوښتني سره مخ وای او هم به ولس د يو لوی غم او ماتم شاهد وای.
دا سمه ده چې په ولسواک نظام کې د هيواد هر اوسيدونکي د مدني حقونو څخه برخمن دی کله چې د هغه په وړاندي ظلم او تيری کيږي بايد د هيواد د قوانينو په رڼا کې خپل اواز جګ کړي خو داخبره هم د پام وړ ده چې هر مدني حرکت بايد داسي يو حرکت وي چې د قانون او د اسلام د مبارک دين د اصولو پرخلاف نه وي، آيا د نه خوږو اعتصاب په رښتيا يو مدني حرکت دی او هغه هم داسي اعتصاب چې د مرګ تربريده بايد دوام ولري؟ داخو په هيڅ ډول مدني حرکت نه ګڼل کيږي بلکي يوه ځان وژنه ده او ځان وژنه د اسلام د مقدس دين پرخلاف يو عمل دی چې ورته اجازه نشته. بله اساسي خبره داده چې د سيمين خور مشکل او اعتراض د ټاکنو د خپلواک کميسيون سره اړه لرل، هغې ادعا کوله چې رايي يې د هغه چا په پرتله ډيري دي چې ددې پرځای بريالۍ اعلان شوې چې وروسته د ټاکنو خپلواک کميسيون دنده واخيستل او د ولسي جرګې د دواړو غړيو رايي يې له سره وشميرلې د شميرني وروسته ثابته شوه چې د سيمين بارکزۍ رايي د هغه بلي خور په پرتله ډيري کمي وې، هغه وخت لازمه وه چې سيمين خور بايد خپل اعتصاب پای ته رسولی وای خو د ځينو سياسي کړيو په مستقيم لمسون هغه د اعتصاب دوام ته هڅول کيده، داسي څرګند ثبوتونه هم شته چې د سيمين وصيت نامه او لوړپوړيو چارواکو ته ګواښونه هم ددغو کړيو له خوا ليکل شوي په وصيت نامه کې داسي ګواښ وشو چې سيمين به خپل د نه خوړو اعتصاب ته د مرګ تربريده دوام ورکړي، نو کله چې خبره دې بريد ته ورسيږي، حکومت، امنيتي اداري او اړوند ارګانونه بايد د وطن د لوړو ګټو پربنسټ کومه پريکړه وکړي؟ ترټولو خطرناکه دا چې د هيواد او ولس دښمنان په دې اړه کرار نه دي ناست هغوی د هيواد د هر کړکيچ نه ناوړه ګټه پورته کوي او غواړي چې د تاوتريخوالي او کړکيچ لمن نوره هم پراخه شي.
د امنيتي ادارو په راپورونو کې په څرګنده ويل شوي چې ترهګرو نيت درلود ترڅو د ولسي جرګې په ودانۍ او د سيمين بارکزۍ د اعتصاب په خيمه بريد وکړي، د دومره لوی ګواښ په وړاندي د حکومت او نظام بې تفاوته پاتې کيدل هيڅ د زغملو نه دي داچې امنيتي ادارو د پيښي نه وړاندي اقدام کړی دا يو پرځای امنيتي ګام ګڼل کيږي چې له يوې لويي فاجعې نه يې له وړاندي مخنيوي کړی ځکه د هيواد د اتباعو امنيت د حکومت او امنيتي ادارو لومړنۍ دنده ده.
يو بل حقيقت دادی چې دامهال زموږ هيواد د خپل تاريخ له ډير حساس او نازک پړاو نه تيريږي له يوې خوا د عنعنوي لويي جرګې د جوړيدو هڅې رواني دي، بل پلو د امريکې سره د ستراتيژيکو اړيکو د لاسليک کولو خبره ده او بل پلو د بن د دوهم کنفرانس د جوړيدو وخت په رارسيدو دی، داټولي هغه مهمي او درنې دندي دي چې د دولت او ولس په وړاندي پرتې دي، دغه راز يو بل تريخ واقيعت دادی چې زموږ د ګاونډيانو کړنو زموږ په وړاندي بدلون موندلی د دواړو ګاونډيانو له لوري زموږ په خاوره راکټي او د توغنديو بريدونه دوام لري، هيواد دامهال د بيلابيلو هيوادونو د مقابلې په يو ميدان بدل شوی دی، په دغو نازکو حالاتوکې د هيواد لوړي ګټې له موږ نه څه غواړي؟ آيا کړکيچ ته لمن وهل او د نويو کړکيچونو راپيداکول؟ داټولي هغه پوښتني دي چې هر افغان بايد ورته ځواب ووايي او دې لړ کې داپوښتني زياتي د هيوادسياستوالو ته متوجه دي، داوخت د دولت په چوکاټ کې بيلا بيل سياسي ګوندونه او ډلي شتون لري، يوشمير ګوندونه د دولت سره موافق دريځ لري خو ځيني ډلي او ايتلافونه مخالف دريځونه لري چې دا د قانون پر بنسټ د هغوی حق دی چې مخالف نظرونه ولري خو د ملي ګټو او ملي مصالحو په اړه بايد د هيواد دټولو سياسي ډلو او ايتلافونو دريځونه يو ډول وي ځکه د هيوادونو ملي ګټي او ملي مصالح د ټولو سياسي ګوندونو په ګډ ملي دريځ پوري اړه لري ، کيدی شي زموږ د ګاونډي پاکستان مثال په دې اړه ډير غوره مثال وي ، کله چې د امريکې له لوري پاکستان


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د حقاني شبکې د شتون او فعالیتونو له امله د سختو اخطارونو او ګواښونو سره مخ شو د پاکستان د حکومت ټولو موافقو اومخالفو ګوندونو په ګډه دا ګواښونه خپل ځمکنۍ بشپړتیا ته لوي خطر وباله او د هیواد د ټولو سیاسي ګوندونو په ګډون یې د ټولو ګوندونو یا (آل پارټیز کنفرانس) په نوم یوه لویه غونډه راوبلل چې د ملکي اداري برسیره، د پاکستان نظامي قیادت او ټولو سیاسي او مذهبي ګوندونو په کې ګډون کړی وو او د وړاندې خطرونو په اړه یې په ګډه بحثونه او پریکړې وکړې، د افغانستان اوسني حالات هم ددې غوښتنه کوي چې د هیواد ټول سیاسي ګوندونه، ایتلافونه، اپوزیسیون، ازادي سیاسي څېرې، مدني ټولني او مخور کسان یوه ملي اجماع رامنځته کړي او دملي ګټو پربنسټ د شتو ننګونو او ګواښونو په وړاندې ګډ دریځ غوره کړي او خپل ولس او نړیوالو ته دیو موټي هیواد او متمدن قوم په توګه د یووالي انځور وړاندې کړي.

پورته مقاله تیره ورځ په سرنوشت ورځپاڼي کې خپره شویده.
عبدالاحد پیغام


افغان جرمن آنلاین په دربښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ